**مطبوعاتي اعلامیه**

# د کرونا ویروس د ناورین په اړه

د کرونا ویروس خپرېدو د پانګوال نظام او ډیموکراټیکې ټولنې ډېرې نیمګړتیاوې موږ ته په ګوته کړې. د چین په هوبي ولایت کې د وبا له خپرېدو سره، نړیوالو مالي بازارونو سخت ټکان وخوړ. د څو اونیو په ترڅ کې د جرمني د اسهامو پلورنځیو (DAX) ارزښت ۴۰ سلنه ته راټیټ شو او له ۸,۴۴۲ څخه ۳/۱۷ ته را ولوېد. د ټیپیانو د شمېر په ډېرېدو سره په المان کې اقتصادي خوځښت او عامه ژوند نږدې په بشپړ ډول ودرېد. د جرمني لومړۍ وزیرې د ۲۰۲۰ز کال د مارچ پر ۱۸مه وویل: «د جرمني له یووالي او له دویمې نړیوالې جګړې راهیسې تر دې دمه زموږ ملت په داسې کچه له عامې ستونزې سره نه و لاس او ګرېوان شوی...»

فدرالي حکومت له لومړي څنډ وروسته پرېکړه وکړه، چې نه یوازې ټولې تعلیمي ادارې، بلکې هغه پلورنځي هم وتړي چې لومړنۍ اړتیاوې نه برابروي. همدا راز، پر تګ راتګ باندې بندیز ولګېد، عامه کنسرټونه، راټولېدنې او د خلکو تر منځ په مستقیم ډول اړیکې هم وځنډېدې چې دا ټول د جدي جریمې تر ګواښ لاندې دي. په داسې حال کې چې

نړیوالو شرکتونو لکه، مارسډیز، ووکس وېګن او BM پرېکړه کړې چې خپلې فابریکې وتړي، خو ځینې کوچني او متوسط شرکتونه د بشپړ افلاس څخه وېره لري. د کار او ټولنیزو چارو وزرات د اټکل له مخې، د دغه ناورین په پایله کې به د ټولنیز امنیت د متقاعدو بېکارانو شمېر ۱،۲ میلیونو ته پورته شي. د مالیې وزیر اولیف شولتز د مارچ پر ۲۱مه د اقتصادي ناورین سره د مبارزې لپاره د میلیاردونو ډالرو مالي مرستو د کڅوړو تخصیص اعلان کړ. هغه همدا راز د حکومت اراده هم اعلان کړه چې پور به یې ۱۵٦ میلیاردو یورو ته لوړ کړي او مالي ژغورنې به رامنځته کړي چې ښایي ٦۰۰ میلیارډونو ته ورسېږي. په پایله کې د المان فدرال بانک په خپل میاشتني راپور کې په ۳/۲۳ کې اعلان وکړ: «اټکل شوی بحراني حالت د منلو نه دی... د دې ستونزې پر وړاندې اقتصادي پرمختګ ډېر مشکوک برېښي.»

د المان روغتیایي سیستم د څو اونیو راهیسې په خطر کې دی. د المان د روغتیایي ټولنې مشر، جیرالډ ګاس اټکل کوي چې د بېړنۍ پاملرنې ۲۸۰۰۰ بسترونه باید په بشپړه توګه ثبت شي او نیوکه کوي چې د روغتونونو مسوولو ریاستونو د روغتونونو په کلینیکي برخه کې کافي پانګونه نه ده کړې. د دغه هېواد د روغتیایي انستیتوت د معلوماتو له مخې، د روغتیایي مرکزونو ۱۷۰۰۰ بېړني بسترونه کم دي. همدا راز له

ځلورو روغتونونو څخه يې درې د ډاکټرانو په لټه کې دي. د شمالي رين ـ ويستهفاليا ولايت وضعيت تر ټولو خراب برېښي؛ ځکه چې دا هغه ولايت دی چې د ناروغۍ له امله ډېر زيانمن شوی دی. د شمالي راين ـ ويستهفاليا روغتون چارواکو نيوکه کړې چې په ډېرو روغتيايي مرکزونو کې د مخنيوي تجهيزات يوازې د ۱۴ ورځو لپاره کافي دي. هغوی په دې حقيقت نيوکه وکړه چې مسووليتونه په خپله په نورو ګوندونو پورې اړه لري. اتحاديه دولتونو ته مسووله ده، ايالتونه د روغتونونو مسووليت پر غاړه لري او داسې نور. د حکومت د بيانيې سره سم، ستونزه د جرمني د روغتيايي سيستم د اقتصادي اغېزمنتيا پر اساس ده، چې ۴۰سلنه روغتونونه له تاوان سره لاس او ګرېوان دي. ناورين د روغتيايي نظام د نړيوالو اکمالاتي ځنځيرونو کمزورتيا هم ښيي. په شمالي راين ـ ويستهفاليا کې د روغتيا وزير کارل جوزېف لامان بايد دا واقعيت په عامه توګه ومني، مخکې له دې چې نور هم وضعيت خراب شي، دا د ۳/۸ نېټه وه.

ان د اروپايي اتحاديې د ملا تير شينګن زون هم د کرونا ويروس له امله په خطر کې دی. پر المان سربېره، شاوخوا ۱۲ اروپايي هېوادونه اوسمهال په ګډ بازار کې پولې تنظيموي، چې د توکو پر لېږد رالېږد او د خلکو پر تګ راتګ باندې ډېر اغيز کولای شي. په پايله کې د عام بازار

د داخلي پولو د څو کیلو مترو تراکم د المان ـ پولنډ پولې تراکم شپېته کیلو مټرو ته رسوي!

کرونا ویروس نړۍ ته یو ځل بیا وښوده چې د پانگوال نظام اقتصادي سیستم څومره نازک دی. د مارکېټ قدرتونه چې فکر کېدو د سرچینو مطلوب وېش ته لاره هواره کړي، پاتې راغلل. دغه قدرتونه د ۲۰۰۸ز کال د مالي ناورین او ۲۰۱۰ ز کال د یورو له ناورین وروسته په دوو لسیزو کې درې ځله پاتې راغلل. حکومتونه دې ته اړ شول چې بیا مداخله وکړي او ازاد بازار له راپرځېدو څخه وژغوري، په داسې حال کې چې لویو پانگوالو ترې مخ اړولو. په دې توگه دا روښانه شوه چې د اقتصادي اغېزمنتیا منطق په کلکه د ټولنې د معافیت سیستم کمزوری کوي. که شرکتونه، تحصیلي ادارې او حتی روغتونونه د اقلیت او اکثریت اقتصادي امکاناتو پر بنسټ فعالیت کوي، واړه ټکانونه بیا هم د ټولو زېربناوو د نظامونو د گډوډولو لپاره کافي دي. د پرمختیایي اډې پیل او د مالي بازارونو د وړاندوینو د منطق له امله، منفي اقتصادي شاخصونو نېغ په نېغه پر ریښتیني اقتصاد باندې اغېزه کړې ده، دوی د نړیوال کېدو له امله د افلاس د ثبات او ډله ییزو بنسټونو ویجاړوونکی قدرت رامنځته کړی دی چې د نړیوالې سوداگرۍ، مالي او پانگونې فعالیت د ډېروالي له امله د بازار د گړندیو اړیکو لامل شوی، نو ټول نړیوال اقتصاد له

سیستماتیکو خطرونو سره مخ دی. په دې توګه، دې ناروغۍ وکولای شوای چې یو نړیوال اقتصادي کړکېچ رامنځته کړي، چې پای یې لا هم نه دی معلوم.

د ټولنې لیبرال نظام هم د همدې وبا له امله ډېر زیانمن شوی دی. د مخنیوي لپاره یې تدابیر نیولي دي او د اساسي قانون له خوا د تضمین شوې ازادۍ مخه یې ډپ کړې ده. په برلېن کې د فري پوهنتون د فلسفې پروفیسور سټیفن ګیوسپي وایي: «زه د ټول ښار او ښارونو تړل ډېر ستونزمن بولم... دا رښتیا ده کله چې د نورو ازادي تر پښو لاندې کېږي، فرد پای ته رسېږي، مګر د دې ازادیو مخه ډپ کوي. د سوچه سیاسي او تنظیمي دلایلو له مخې ـ دا ستونزمن دی...». مګر د لېبرال ټولنې په نظر تر ټولو لوی شی دا دی چې په دې ناورین کې دوی مسوول دي چې د یو بل پر وړاندې د خلکو د ژوند توازن برابر کړي! په روغتیایي سکټور کې د تجهیزاتو او کارکوونکو د کمښت له امله، ډاکټران باید ناروغانو ته د روغتیا هیله ولري او نور خپلو کورونو ته پرېږدي. د لیبرالېزم څخه چې د خلکو په ذهن کې کوم تصویر رامنځته شوی، هغه دا دی چې فرد د ګروپ تابع او تر دې لاندې انظباط نه دی، دا تصویر په اوسني حالت کې خپله ناکامي ښودلې ده چې ټولنیزو هڅو ته اړتیا لري، چې په پایله کې انفرادي سربښندونو ته اړتیا لري. دا روښانه شوه

چې د یوې داسې ټولنې ایډیالوژیک جوړښت چې دولت پکې د افرادو د ازادیو ساتلو څخه مشروعیت تر لاسه کوي، یو خطرناک چل دی چې نه په منظم او نه هم په ناورین کې د انسان د واقعیت استازیتوب کولای شي.

حزب التحریر پر الماني ژبه غږېدونکو هېوادونو پر خلکو غږ کوي چې دا پرېکړه باید په پراخه کچه تر څېړنې لاندې ونیول شي. پر همدې ډول یو کمزوری نظام، اقتصادي ثبات او ټولنه تورو تیارو ته ټېل وهي او د خلکو ستونزې په مسلسله توګه نه شي هوارولای. یوازې د انسان له فطرت سره سم یو نظام کولای شي چې خلک له تورو تیارو څخه راوباسي. دا نظام اسلام دی چې خلک تر یو چتر لاندې راټولوي او د اسلامي دولت په چوکاټ کې یې ۱۳۰۰ کلونه اقتصاد ثابت ساتلی و.

**﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾**

**ژباړه:** *[اې محمد صلی الله علیه وسلم!] موږ چې ته لېږلی یې، دا په اصل کې د عالمیانو لپاره زموږ رحمت دی. (موږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لېږلی یې.)* [انبیا: ۱۰۷]

په جرمني ژبه غږېدونکو هېوادونو کې

د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ.ق کال، د رجب ۲۹مه

۲۰۲۰م کال، د مارچ ۲۴مه

د صدور گڼه: ۱۴۴۱/۰۴